بسم الله الرحمن الرحیم

## د ملا عبدالاحد غریبک (رسالة غریبه)

د طلـوع افغـان پـه ( ۵۴ او ۵۵ اونیـزه )قـوس ۱۳۹۷ ل. گڼـه کـي مـي د سـنځر بـامیزي پـه نـوم د یـوه کنـدهاري لیکـوال یـوه مقـالوي لکنـه زمـا د اروابـناد نیکـه مـلا عبدالاحـد غریبـک اخنـدزاده د یـوه اثـر (بیـاض فقیـر) پـه اړونـد ولوسـتله چـي هـم پـه زړه پـوري او هـم ئـې ماتـه ددې لکنـي پـه د بهـانې فرصـت پـه لاس راکـړ.د سـنځر د بـامیزي گمنامـه شـهرت مـي پـر یـوه داسـي دوراهـي دروي چـي لـه یـوې خـوا ځخـه د کـورني کتـابتون د یوه نایـاب اثـر پـه اړونـد ئـې دا معلومـات لـه کومـه کـړي، مـاخو یـواځي د(بیـاض فقیـر) لـه متنـه ځخـه دوه یـا درې هغـه عکسـونه چـي دلکنـي مـتن یـط د خرقـې مطهـرې او مـوی مبـارک پـه اړونـد وو او ددواپـو مقدسـو تـاریخي اثـار دایښـودلو لمـړي ځـای یـې زړه جـامع یـادکړئ .خرقـه مطهـره چـي اوس د کنـدهار ولایـت مقـام پـر مخـامخ پـه لویـه پراخـه جـامع ، تفریحـي پـارک او شـاته ئـې د لـوړ درشـل احمـد بابـا مقـبره ده پرتـه او مـوی مبـارک پـه ځلورمـه ناحیـه کـي سر پـوښ چهـار سـو تـه څیرمـه پـه کنـدل خـان جـامع کـي پرتـه ده . د ښـاغلي عبداللـه سـتوري تـه چـي زمـا د کوچنیـوالي پـه دوره کـي د مدرسـې هـم صـنفي وو، ورکـړي دا مـي هـم زړه تـه نـه لـویږي چـي نومـوړي دي پـر هغـه رسـاله دا لکنـه کـړي وي . پـه بـل اړخ د (سـنځر) د اسـمي کلمـې پـه اړونـد  چـي دا پـه اغلـب گـمان اصـلي نـوم نـه ،بلکـي مسـتعار نـوم او د سـنځر پـه اصـطلاح کیـدای  د کـاکړو ټـبر د سـنځر نیکـه پـه قبیلـه پـوري اړونـد وي او بـامیزی د تخلـص پـه توگـه د دې لـه پـاره کـارولی وی چـي گـواکي د بـامیزو دکـوځې بـه وي . چـي خـبره را ځخـه اوړده نـه وي نـو اړ یـم چـي د (رسـاله غریبـه ) پـه اړونـد خپلـه دغـه لکنـه وکـړم ، مخکـي لـه دې چـي پـر رسـاله وږغېـږو کـه تظـاهر نـه وي د مـلا عبدالاحـد اخونـد زاده چـي ځانتـه ئـې د (غریبـک)تر ځنـگ د کتـابونو پـه ځینـو شرحـو کـي د (آریـایي، زابـلي ، بـامیزایي، کـاکړي، حمـزه زائي ، ادازائي) تخلـص کـارولئ دی د ملاعبـدالخالق اخونـدزاده طبیـب زوی، د عبدالشـکور ملااخونـد زاده لمسـی د مـلا محمـد شـعیب اخنـد زاده کړوسـی، د مـلا محمـد سـلیمان اخونـد زاده کـاکري (اسـتاد گـل بـلاد احمـد شـاهي )کوسـی او د ملا عبدالرب اخوند زاده کودی دی.

Ketabton.com

غریبـک د(۵۵) کلونـو پـه عمـر مړ دی. ابـا ئې مینـه تر ړوب لوړ د سپېڅلر سیمه ده ، لـه هغـه ځایـه یې کـورنۍ دافغانسـتان د  پالیسـۍ جـوړونکي ځـوان نیکـه (حـاجي میـرویس خـان) د پـاځون پـر مهـال کنـدهار تـه راغلي دی.

د اروابـناد غریبـک پـه اړونـد د علامـه عبدالشـکور رشـاد پـه زیـار پـه لنـډ کـي تحقیـق سـوي اثـر (د واصـل روښـاني ځـو شـعرونه ) پـه (۷،۸،۹)مخونـو کـي چـي د بایزیـد رو ښـان د بـین المللـي سـمینار پـه ویـاړ خپـور سوئ کښل سوي دي :

(د کنـدهار ښـار د بـامیزو پـه کوځـه کـي یـو لـوی مسجد شـته چـي د زړې جـامع پـه نامـه مشـهور دی او ویـل کیـږي چـي د کنـدهار د احمـد شـاهی ښـار تـر ودانولـو پخـوا دغـه جـامع مسجد پـر دغـه ځـای ودان و. د دغـې جـامع مسجد د امامـت او خطابـت چـاري د ځـو پیړیـو راهیسيـ د یـوې کـاکړي کـورنۍ  پـه لاس کـي دي چـي دغـه کـورنۍ پـه کنـدهار کـي د زړې جـامع د اخنـد زاده گـانو پـه نامـه شـهرت لـري، د دغـې کـورنۍ یـو

(c) ketabton.com: The Digital Library

متاخر سړي عبدالاحد اخندزاده نومیده چي له خپل نامه سره به ئې (غريبک) هم لیکه او د کندهار له ښو خطاطانو څخه و. غريبک په خپل کورکي یوه داسي مغتمنه کتابخانه درلوده چي په درست کندهار کي ئې ساری ډېر لږ و، ده ته د کتابو د راټولولو هڅه د خپل پلار ملا عبدالخالق اخند زاده څخه پاته وه او د غريبک کتابخانې د دغي کورنۍ د څو پيړيو د علمي او ادبي ذوق نماينده گي يې کوله په (۱۳۲۹) ش کال غريبک مړ سو)

رساله غريبه چي ټول تال ( )مخونه لري صرف( )مخونه ئې په تورو ډک او متباقي ټول مخونه ئې سپين دي چي دا سپين وال د رساله غريبه نا پوراينه له ورايه را پېژني ، موږ په دي پوه کوي چي اروابناد غريبک د ژوند تر پايه په دې نه دی توانيدلئ چي دا کتاب پوره کړي.

د نوموړي کتاب فزيکي ځانګړني په لاندي ډول دي:

۱ : دا کتاب په کلک مجلد پوښ سره پوښلئ دی چي د وقائې پر مخ ئې گلداره د هغه وخت چاپي کاغذ کارولئ د کتاب د جلد د مخ او شا برخه ئې دواړه يو ډول مجلد شين ته ډېر او سور ته ورته رنگ کارول سوئ دی .

۲: د کتاب منځ کاغذي پانگه ئې ټول خام رنگ سپين کاغذ دی.

۳:د پښتۍ د شا په لومړي مخ کي موښتی دوه دوه توري داسي ترکيب سوي دي چي تر لاندي د ابجد د حساب ۲۷،۱۲،۲۴،۸۲،۲۱،۷۱،۶۳،۵۱،۵۳، او ....عد دونه کښل سوي دي .زه نه پوهيږم چي ليکوال به دا حروف او عددي رقمونه په اغلب کمان د ابجد او انموذج گمان پر کيږي د څه له پاره کښلي وي؟

د کتاب د لومړۍ کاغذي ورقي پر لومړي مخ په ډېر ميده نستعليق خط لاندي درې نيم بيته کښل سوي دي :

د دروازه موی سیاه

آمد درويش ميمون شاه

بر زنخ موي سياه مانند دراز گردد.

بيا په غټ دوه پنسله نستعليق کښل سوئ دی (سيد خوب) تر دې لنډې جملې لاندي بيا په يوه نيمه کي ( جد، يه ، جو يح جز کا حج کد حط ، کن د ديوه کک دو کد در کح ده ) کلمات او توري کښلي دی تر لاندي ئې په ايرب ډول په ډېل نايي قلم په نستعليق خط کښلي دي چي (غريق در بحر فسق و فساد) دا لومړۍ صفحه همدلته تمامه سوې ده، د کتاب د دوهم مخ پرمنځ په (۵) ليکو کښي په ډېر نازنين نستعليق او ځای ځای پيچلي مرزائې خط د اهدا په ډول( در کاه آله شرف صدور يافته بود ، در ايمن ساعت بدين قليل الاستطاعه رسيد بموجب کمال فرحت ماني کشت فرمايشي ـ که در باب ... بسر و چشم را که والسلام والاکرام)

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دې لکنــي پــه اړخ او لمــن کــي بيــا پــه معــاصر بيــک قلــم ناکــاره د انــارو گلکــاري ســوې چــي د صــفحې مـخ ئـې چټـل کـړئ دی د کتـاب دريـېم مـخ تـر (هـو) کلمـي لانـدي پيچلـئ سـيا مشـق ډېـر ښـکلی مـتن کښـلئ سوئ دی.

څلرمه صفحه ئې هم د متن په تغير په خطي ډول دربيمي صفحې ته ورته ده .

د پنځمــي صــفحې پــر سر د ليکــي لــه منځــه پــه لانــدي کلمــو سره جملــه سره شروع ســوې ده(بدانکــه کـه حـروف مـده سـه حـرف اسـت الـف سـاکن مـا قبـل مفتـوح واو سـاکن) تـر لانـدي پـه ښـکلی نسـخ خـط کښـل سوي چي: ماشاءالله لم يشا مالم يکن.

تــر دې کښــته بيــا کښــل ســوي : کتــاب عجيبــه مســمی بــر رســاله غريبــه اســت، ايــن کتــاب مســتطاب در ملـک مـلا عبدالاحـد آخنـد زاده ميباشـد هـرکس کـه دعـوه کنـد دعـوه او باطـل ميباشـد. تـر دغـه ليکـو کښـته په ارب ډول د صفحې له کښته او لوړ اړخ چي دا ليکه چپې خواته مايله کښله سوې ده:

ذلـت يافـت هرکـه او طماعـت کـرد .بيـا د سر لـه خـوا و کښـته خواتـه د پورتـه نـيم کـوونکئ بـل نـيم بيـت کښـل سـوئ چـي کلـمات ئـې دي : غرفـت يافـت هـر کـه او قناعـت يافـت.تر دې بيـت لانـدي پـه مايـل ډول شـېږ ليکــي د بيتونــو پــه ډول کښــل ســوي خــو شــعر نــه بلکــي د اوداســه د نيــت پــه هکلــه دی. اخنــد زاده د اوداســه نيــت داسي کښــلئ دی : نويــت ان اتوضــأ لرفــع الحــدث و اســتباحة الصــلوة. غريبــک د نومــوړي نيــت پــه دوام کښــلي دي:و نيــت در تــيمم فــرض اســت بــدين عبــارت بگويــد کــه : نويــت ان اتــيمم لرفــع الحــدث و اسـتباحة للصـلوة ۱۲. داصـفحه نـوره تمامـه ده .د کتـاب پېژنـدني داصـفحه مـوږ تـه څـو مـدارک پـه لاس راکـوي :

الـف : د (کتـاب عجيبـه مسـمی بـر رسـاله غريبـه اسـت) مـوږ پـوه کـوي چـي د (رسـاله غريبـه) د کلماتـو کارونـه د غريبـک پـه نـوم ليکـوال سره د منطقـي ربـط پـر بنسـټ غريبـک تـه منسـوبيږي او دا پـه ډاگـه کـوي چـي د دې کتاب ليکوال او مؤلف اروانباد ملا عبدالاحد غريبک اخندزاده دی.

بـا: د پېژنـدني د مـخ ذکـر سـوې برخـه کـي چـي کښـل سـوي (ايـن کتـاب در ملـک مـلا.....) دا روښـانه کوي چي د رساله غريبه د تاليف ، لکني او تجلد درې سره حقوق د غريبک په ملکيت پوري اړوندوي .

د کتـاب شـپږمه صـفحه چـي پـه ښـکلي نسـخ مشـقي خـط (بسـم اللـه الـرحمن الـرحيم ) کښـل سـوي بيـا تـر لانـدی پـه فـارسي مقدمـه چـي د خـط ډول ئـې ښـکلی نسـتعليق دی د (بدانکـه اسـعدک اللـه تعـالي فـی الدارين که ايـن کتـاب مشـتمل اسـت بـر دعـا ئيـات عجيـب و غريـب مسمی بـه رسـاله غريبـه نـام نهـاده شـد ....) دا ښئي چي د کتاب برخه پر څو موضوعاتو متمرکزه ده ، چي په لاندي کي روښانه دي .

لـومړی يـي د دعـاؤ ، دوهـم بـاب ئـې د کـوچني اخـتر ، دريـيم بـاب ئـې پـه جسـم کـي جـوهر ، څلـورم بــاب ئــې د قرانکــريم د نصوصــو پــر تعــداد سربيــره پــه قرانکــريم د اعــدادو د ارقــامو او قرانــی کلماتــو او اعرابــو د شـمېر پـه اړونـد را گرځـي تـر د موضـوع وروسـته د کتـاب (يـوه نيمـه ) صـفحه چـي (۳)مخـه کيـږي خـالي دي ، وروسـته د صـفحې پـه پيـل کـي کښـل سـوي چـي : اعـداد حـروف ابجـد اينسـت او بيـا د ابجـد انفـرادي حـروف او

(c) ketabton.com: The Digital Library

تـر لانـدي د حروفـو فـردي حسـابي قيمتونـه پـه حسـابي ارقـامو کښـلي دي . د ابجـد تـر بشـپړ حسـاب وروسـته د دينـي کتـابونو غونـدي پـه حاشـيوي ډول د صـفحې پـر لمـن پـه مايـل ډول د نکـاح خطبـه کښـل سـوې دلتـه زمـا سر نـه خلاصـيږي د ابجـد تـر حسـاب او تـورو لانـدي ولـی د نکـاح خطبـه کښـل سـوې ده . د خـط د مـتن دوام کـه پـه دې برخـه کـي گـورو نـژدې پـر (۸) (۹) موضـوعاتو را گرځـي د کتـاب ۳ صـفحې خـالې او بيـا بلـه د يـوه بل کتاب مقدمه تر (بسم الله ....) وروسته داسي را ځي:

( ترجمـه ديباچـه مسـلم العلـوم بطريـق اختصـار لا بطريـق الطـوال کـما في الکنـد يـا....) د ديبـاچي دغـه ترجمـه د (مسـلم العلـوم )پـه اړونـد فـارسي د هغـه کتـاب د ژبـاړي پـه بڼـه د بـل کتـاب څـرک داسي راتـه روښـانه کـوي چـي د (رسـاله غريبـه ) پـه مجلـد کتـاب کـي د ننـه يـو بـل ژبـاړلئ کتـاب دي، د دې کتـاب پـه مـتن کـي (۲۵) پـه سـلو کـي برخـه پښـتو تـه هـه ژبـاړل سـوې ده . د پښـتو ژبـاړي يـوه نمونـه ئـې د مـړي د اسـقاط پـه هکلـه داسي ده ( دا مبلـغ پـه فديـه کـي د يـو سـل اتيـا لمونځونـو لـه جانبـه ده دي حـاضر ميـت کـه چيـري پـر ذمـه د دي وي چـه دی عـاجز دی فـی الحـال لـه ادا لـه قضـا څخـه پـه طريقـه د اسـقاط مـا و تاتـه در کـړي دي اخيسـتونکي دي واي څـما قبـول دي پـه دغـه لفـظ...) تـر پنځـو ډکـو مخونـو بيـا د يـوه منظـوم کتـاب پيلامـه ښکاري .

د دې کتـاب پـه سر کـي تـر (بسـم اللـه ...) وروسـته د (باسـمک الابتـدا يـا فتـاح ) پـه شـيرو شـکر سره د عربي او فارسي ژبو په کارونه سره د (الف) په رديف يو حمد په شعر په لاندي بيت سره راځي :

بعد حمد ثنا و مدح خدا

نعمت پيغمبر دليل هدی

تــر پورتــه بيــت لانــدي (۸) بيتونــه د صرفي او نحــوي قواعــدو منظــوم ډول را ښــئي . د دې صــفحې وروسـتی بيـت پـه داسي ډول ختميـږي چـي د شـاعر نـوم نـه پکښـي ښـکاري مـوږ دې گونـگ تـه دروي چـي ايـا دغـه منظـوم نيمگـړی کتـاب خپلـه د اروانښـاد ملاعبدالاحـد غريبـک او کـه د کـوم بـل چـا اثـر دی يـوولس مخـو نـه وروسـته د عقائـدو اړونـد د يـوه بـل کتـاب پيلامـه را ښـئي د نومـوړي کتـاب پـه سرکـي هـم پـه ښـکلي نسـخ سـياهي خط(بسـم اللـه ....) او تـر لانـدي پـه مـنظم ډول پـه نسـخي خـط د ايـمان د ارکـانو اجـمالي کلمـه چـي د (کنـزرح) پـه نـوم ده پـه لـومړي بيـت کـي داسي ذکـر کړېـده: (( ز بنيـاد ايـمان نـداري خـبر... کنـزرح بـداني شـوي معتـبر) د دې لـومړي مـخ تـر پايـه د موضـوع (۸) بيتونـه پـه پـوره کيـدو ختمـه سـوې د دې کتـاب د دې مـخ نيمـه برخـه بيتونـه پـه شروحـو پوښـل سـوې ده. دا کتـاب هـم د نـورو غونـدي پـه پنځمـه صفحه نيمگـړی پاتـه سوئ دی.

د رساله غريبـه پـه مجلـد مـتن کـي د (ل) پـه قافيـه کـي يـو منظـوم کتـاب پـه (بسـم اللـه ....) سره پيـل دی. دا کتـاب چـي عـربي منظـوم کتـاب دي مجموعـا د (٦٧) بيتـه کتـاب چـي پـر (مـؤمن بـه احکـام ،ايـمان، شرايـط ايـمان ، صـفت ايـمان ، فـرايض شرع ، واجـب الاسـلام ، سـنت اسـلام ، احکـام شريعـت ، مـذهب سـنت و جماعت ) بابونو خلاصه سوئ دی ، بيا (۱۷) صفحې خالي پاته دي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

تـر يـادو خـالي صـفحو وروسـته اروابښـاد غريبـک د محمـد غـوث پـه نـوم د يـوه ليکـوال رسـاله ده چــي د ضروري عقايـدو پـه برخـه کـي مشـتمله ده ، پـه خپـل ښـکلي نسـتعليق خـط خطـاطي کړېـده. د رسـالې پـه پيـل کـي تـر (بسـم اللـه .....) وروسـته پـه فـارسي مـتن د عـربي کلماتـو پـه مـتن سره لـومړی د اللـه (ج) سـتاينه ور پسي وروسته پر رسوال لله (ص) درود او بيا د رسالې ليکوال کښلي دي چي :

امـا بعـد: ( ميگويـد بنـده ضـعيف محمـد غـوث بـن سـيد محمـد حسـن قـادري غفـر اللـه تعـالى ذنـوبهما و سـتر فـی الـدارين عيـو بهـا کـه ايـن رسـاله اسـت مشـتمل بـر عقايـد ضروريـه کـه مسـلمان را لازم اسـت ....) نومـوړې رسـاله تـر پنځـو مخونـو دوام کـوي د غريبـک پـه غزانـه کـي مـوږ تـه دغـه نـوې عقيـدتي رسـاله پـه حنيفـي مـذهب کـي د يـوه بـل کتـاب او يـوه بـل حـاکم ليکـوال ځـرک پـه لاس راکـوي زمـوږ ځـوان دينـي علـما او محقيقـين دې تـه اړ بـاسي چـي اړونـد ئـې شـننه او د را سـپړني پـه اړونـد نـور تحقيقـات وکـړي.د دې رسـالې د لومړيـو دوو صـفحو خطـي مـتن پـه تـوره سـياهي او متبـاقي درې صـفحې پـه سره رنـگ داسي خطـاطي سـوي چـي هـره يـوه ئـې د لـومړۍ هغـې څخـه پرتـه د (۲۰) ليکـو او لـومړۍ صـفحه ئـې د (۱۵) ليکـو درلـودونکي ده ،د محمـد غـوث قـادري نـومي ليکـوال دغـه رسـاله د اروابښـاد د نـورو ذکـر سـوو پـه پرتلـه دا ښـه والـی لـري چـي د :(ايـمان مـردود ايـمان کـافر اسـت نعـوذ باالـلـه مـن ذالـک واللـه الهـادي و منـه التوفيـق والرشـاد تمـت تمـام شـد شرح امنت باالله).

د دغـي رسـالې سره پيوسـت پـه پنسـل نسـتعليق قلـم د بشريـ علومـو اړو يـوه رسـاله پـه لانـدي سر ليـک شروع کيـږي : ( آئينـه جهـان ـــــ و مرآت العـالم )بسـمه تعـالی: تـر دې لانـدي د (کـره زمـين ) پـه سرليـک او تـر هغـه لانـدي د طبيعـي مـوادو د نومونـو نـا مـنظم لـړ ليـک او بيـا د هـري صـفحې لـه پـاره يـو سرليـک او لانـدي د سرليـک د مـوادو د مفرداتـو نومونـه بيـان سـوي دا رسـاله مجموعـا (۲۷) مخـه ده.د دې رسـالې د يـوه سرليـک مـتن د مکتوبـات ربـاني مجـدد الـف ثـاني پـه حوالـه (۱۳٦۳) ه ق مورخـه بانـدي د مهـدي صـاحب ظهـور تـه (۳۷)قمري کلونه  پاته دي ښئي.

تـر نومـوړي هـر اړخيـز کتـاب وروسـته د سـپينو پـاڼو پـه ۲٦۲ مـخ کـي د (سـوانح عمريـه) پـه عنـوان د کنـدهار د يـوه پخـواني يونـاني طبيـب دا جـمالي ژونـد تفصـيل داسي کښـله کيـږي .مـلا محمـد اکـبر طبيـب در بـازار ښـکار پـور بـود کـه هـر کـال ميدانيسـت قبـل از زوال زنـده مـی بـود در بـازار ميکشـد....) د رسـاله غريبـه پـه پـای کـي پـه فـارسي ژبـه د (شروط الصـلوة) مقدمـه کښـل سـوې او نـور پـر دغـه ځـای کتـاب خـتم دی.)د پورتـه لنـډې لکنـي پـه اړونـد اړتيـا وه چـي بايـد د ځوانـو محقيقينـو سره د يـوه ماخـذ پـه معـرفي کـي مرسـته وسي . کـه ژوند باقي وو او برلاسي مو په برخه وه انشاءالله رساله غريبه په مشرح او پښتو ژباړي سره مله خپره سي .

په ادب اودرنښت

ورور مو قران مل غريبک

۱۳۹۷/دلوه /۲٦+

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**